د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداره
اداره ملی تنظیم امور آب

# د اوبو په سکتورکې د خصوصي پانګې اچونې د جلب او جذب کړنلاره

# طرزالعمل جلب و جذب سرمایه گذاری خصوصی درسکتور آب



د خپرېدو نېټه: ۱۳۹۹ ل. هـ کال د چنګاښ (۱۷)
تاریخ نشر: (۱۷) سرطان سال ۱۳۹۹ هـ . ش

# فهرست مندرجات

## طرزالعمل جلب و جذب سرمایه گذاری خصوصی درسکتور آب

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|

### فصل اول
### احکام عمومی


| | | |
|---|---|---|
| مادۀ اول | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم | اهداف | ۱ |
| مادۀ سوم | اصول | ۲ |
| مادۀ چهارم | اصطلاحات | ۲ |
| مادۀ پنجم | ساحه تطبیق | ۳ |


### فصل دوم
### وظایف، صلاحیت ها و مسؤلیت ها


| | | |
|---|---|---|
| مادۀ ششم | وظایف و صلاحیت های اداره ملی تنظیم امور آب | ۴ |
| مادۀ هفتم | وظایف و مسئولیت های ریاست عمومی پلان، پالیسی و نظارت آب | ۵ |
| مادۀ هشتم | وظایف و مسئولیت های سرمایه گذاران | ۷ |


### فصل سوم
### شرایط، طی مراحل، تائید و یا رد درخواستی


| | | |
|---|---|---|
| مادۀ نهم | شرایط سرمایه گذاری | ۸ |
| مادۀ دهم | طی مراحل درخواستی | ۹ |
| مادۀ یازدهم | تائید و یا رد درخواستی | ۱۰ |


### فصل چهارم
### احکام نهایی


| | | |
|---|---|---|
| مادۀ دوازدهم | ظرفیت تخنیکی | ۱۱ |
| مادۀ سیزدهم | پلان سرمایگذاری | ۱۲ |
| مادۀ چهاردهم | ثبت احکام | ۱۳ |
| مادۀ پانزدهم | طی مراحل تدارکاتی | ۱۳ |
| مادۀ شانزدهم | امور ظارتی | ۱۳ |
| مادۀ هفدهم | وضع لوایح | ۱۴ |
| مادۀ هژدهم | انفاذ | ۱۴ |

# د اوبو په سکتور کې د خصوصي پانګې اچونې د جلب او جذب کړنلاره

## لمړی څپرکی
## عمومي حکمونه

<u>مبنی</u>
**لمړی ماده:**
دا کړنلاره د اوبو د چارو د تنظیم قانون د ۴۰ مادې د حکم په رڼا کې د اوبو په سکتور کې د خصوصي پانګې اچونې د جلب او جذب په موخه وضع شوې.

<u>موخې</u>
**دویمه ماده:**
د دې کړنلارې موخې عبارت دي له:
۱- د اوبو په سکتور کې د خصوصي پانګې اچونې د جلب او جذب چارو تنظیمول.
۲- د اوبو په سکتور کې د خصوصي پانګې اچونې د رول لوړول.

# طرزالعمل جلب و جذب سرمایه گذاری خصوصی درسکتور آب

## فصل اول
## احکام عمومی

<u>مبنی</u>
**مادۀ اول:**
این طرزالعمل در روشنائی حکم مادۀ ۴۰ قانون تنظیم امور آب به منظور جلب و جذب سرمایه گذاری خصوصی درسکتور آب وضع گردیده است.

<u>اهداف</u>
**مادۀ دوم:**
اهداف این طرزالعمل عبارت اند از:
۱- تنظیم امور مربوط به جلب و جذب سرمایه گذاری خصوصی درسکتور آب.
۲- ارتقای نقش سرمایه گذاری خصوصی در سکتور آب.

۳- د اوبو په سکتور کې د خصوصي پانګې اچونې هڅونه او ملاتړ.

۴- د خلکو د ژوند کچه لوړول، د کار او عامه هوساینې د زمینې چمتو کول.

۳- تشویق و حمایت از سرمایه گذاری خصوصی در سکتور آب.

۴- ارتقاء سطح زندگی مردم، فراهم ساختن زمینه کار و رفاه عامه.

## اصول

**دریمه ماده:**

هغه اصول چې د دې کړنلارې د حکمونو په پلي کېدو کې مراعات شي؛ عبارت دي له:

۱- د خصوصي پانګې اچونې قانون او نور اړوند تقنیني سندونو حکمونه، او.

۲- د اوبو سرچینو هر اړخیز مدیریت.

## اصول

**مادهٔ سوم:**

اصولی که در تطبیق احکام این طرزالعمل رعایت گردد؛ عبارت اند از:

۱- احکام قانون سرمایه گذاری خصوصی و سایر اسناد تقنینی مربوط، و.

۲- مدیریت همه جانبه منابع آب.

## اصطلاحګانې

**څلورمه ماده:**

په دې کړنلاره کې بښکتني اصطلاحګانې لاندې مفهومونه افاده کوي:

## اصطلاحات

**مادهٔ چهارم:**

اصطلاحات آتی در این طرزالعمل مفاهیم ذیل را افاده می نمایند:

۱- پانګه اچونه: هغه غیر نقدي پانګه ایز اسعار او امکانات دي چې په غیر مقیده صورت سره د مشارکت د ونډو یا په یوه منظور شوي تشبث کې د ملکیت د ګټو د تر لاسه کولو لپاره تدارک شوي وي او د سوداګریزو فعالیتونو د پرمخ بیولو د امکان لپاره د منظور شوي موسسې جوازونه، اجازې، ماشین الات، تجهیزات او صنعتي یا معنوي مالکیت حقوق پکې شامل دي.

## د پلي کیدو ساحه

**پنځمه ماده:**

د دي کړنلاري حکمونه د اوبو په سکتور کې د خصوصي پانګې اچونې د جلب او جذب په چارو کې د پلي کیدو وړ دي.

۱- سرمایه گذاری: اسعار و امکانات سرمایه وی غیر نقدی است که به صورت غیر مقیده جهت کسب سهام مشارکت یا منافع مالکیت در یک تشبث منظور شده پرداخت یا تدارک گردیده و شامل جوازها، اجاره ها، ماشین آلات، تجهیزات و حقوق مالکیت صنعتی یا معنوی مؤسسهٔ منظور شده جهت امکان پیشبرد فعالیت های تجارتی می باشد.

## ساحه تطبیق

**مادهٔ پنجم:**

احکام این طرزالعمل در امور جلب و جذب سرمایه گذاری خصوصی در سکتور آب قابل تطبیق است.

## دويم څپرکی
## دندې، صلاحيتونه او مسوليتونه

**د اوبو د چارو د تنظيم ملي اداري دندې اوصلاحيتونه**

**شپږمه ماده:**

د اوبو د چارو د تنظيم ملي اداره د اوبو په سکتور کې د خصوصي پانګې اچونې د جلب او جذب په چارو کې لاندې دندې او صلاحيتونه لري:

۱- د اوبو په سکتور د خصوصي پانګې اچونې د جلب او جذب چارو مديريت.

۲- د اوبو په سکتور کې د پانګې اچونې لپاره د خصوصي پانګې اچوونکو هڅونه او هغوی ته د لازمو آسانتياوو چمتو کول.

۳- د خصوصي پانګې اچونې لپاره د موخو پيژندل او ټاکل.

۴- د خصوصي پانګې اچوونکو لپاره د اوبو سرچينو د ګټه اخيستنې اجازه ليک صادرول.

## فصل دوم
## وظایف، صلاحیت ها و مسئولیت ها

**وظایف و صلاحت های اداره ملی تنظیم امور آب**

**مادۀ ششم:**

اداره ملی تنظیم امور آب در امور جلب و جذب سرمایه گذاری خصوصی در سکتور آب دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می باشد:

۱- مدیریت امور جلب و جذب سرمایه گذاری خصوصی در سکتور آب.

۲- تشویق سرمایه گذاران خصوصی جهت سرمایه گذاری در سکتور آب و فراهم آوری تسهیلات لازم به آنها.

۳- تشخیص و تعیین اهداف جهت سرمایه گذاری خصوصی.

۴- صدور اجازه نامه استفاده از منابع آب برای سرمایه گذاران خصوصی.

۵- د تدارکاتي پروسي د پړاوونو د تیرولو وروسته د خصوصي پانګي اچوونکو سره د اوبو په سکتور کي د پانګي اچوني تړون.

۵- عقد قرارداد با سرمایه گذاران خصوصی جهت سرمایه گذاری در سکتور آب بعد از طی مراحل پروسه تدارکاتی.

## د پلان، پالیسۍ او څارني عمومي ریاست دندي او مسئولیتونه

**اوومه ماده:**

د پلان، پالیسی او څارني عمومي ریاست د اوبو په سکتور کي د خصوصي پانګي اچوني د جلب او جذب په چارو کي لاندي دندي او مسئولیتونه لري:

۱- د خصوصي پانګي اچوني د جلب او جذب له لاري د اوبو پالیسیو د موخو اغیزمن پلي کول.

۲- د پانګي اچوني د جلب او جذب لپاره د اوبو پالیسیو د موخو پیژندل، تحلیل، او اقتصادي ارزونه.

## وظایف و مسئولیت های ریاست عمومی پلان، پالیسی و نظارت

**مادۀ هفتم:**

ریاست عمومی پلان، پالیسی و نظارت در امور جلب و جذب سرمایه گذاری خصوصی در سکتور آب دارای وظایف و مسئولیت های ذیل می باشد:

۱- تطبیق موثر اهداف پالیسی های آب از طریق جلب و جذب سرمایه گذاری خصوصی.

۲- تشخیص، تحلیل و ارزیابی اقتصادی اهداف پالیسی های آب جهت جلب و جذب سرمایه گذاری.

۳- د پانګي اچوني په موخه د ستندرډ غوښتنليک فورمي جوړول.

۴- د ابو د چارو د تنظيم په ملي اداره کي د خصوصي پانګي اچوونکو سره د پانګي اچوني د غوښتنليک ستندرډ فورمي بشپړول او د پړاوونو په تيرولو کي مرسته.

۵- د خصوصي پانګي اچوونکو د پانګي اچوني د پلان لوستل، تحليل او ارزونه.

۶- د خصوصي پانګي اچوونکو د کاري پروسي د څرنګوالي او پرمختګ څارنه او ارزونه چي د اوبو د مديريت په برخه کي فعاليت لري.

۷- تر ارزوني او د آيسا دفتر د فعاليت جواز تر صادرېدو څخه د وادمن کيدو وروسته په ډيټابيس سيستم کي د خصوصي پانګي

۳- ترتیب فورم ستندرد درخواستی به منظور سرمایه گذاری.

۴- همکاری در تکمیل و طی مراحل فورم ستندرد درخواستی سرمایه گذاری با سرمایه گذاران خصوصی در اداره ملی تنظیم امور آب.

۵- مطالعه، تحلیل و ارزیابی پلان سرمایه گذاری سرمایه گذاران خصوصی.

۶- نظارت و ارزیابی از چگونگی و پیشرفت روند کاری سرمایه گذاران خصوصی که در عرصه مدیریت آب فعالیت دارند.

۷- ثبت اسناد تخنیکی سرمایه گذاران خصوصی در سیستم دیتابیس بعد از ارزیابی و توسل اطمینان

اچوونکو د تخنیکي سندونه ثبتول.

۸- د کاري پرمختګ ریپوټونو راټولول او د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري ته وړاندې کول.

<u>د پانګې اچوونکو دندې او مسؤلیتونه</u>

**اتمه ماده:**

خصوصي پانګې اچوونکي د اوبو په سکتور کې د خصوصي پانګې اچونې په موخه لاندې دندې او مسولیتونه لري:

۱- د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري څخه (د اوبو سرچینو د ګټه اخیستنې د فاضلاب راټولولو، انتقال، تصفیه او تخلیه کولو او د اوبو تاسیسات جوړولو) اجازه لیک تر لاسه کول.

۲- د آیسا له دفتر څخه د فعالیت جواز ترلاسه کول.

صدور جواز فعالیت از دفتر آیسا.

۸- جمع آوری و ارائه گزارشات از پیشرفت کار به اداره ملی تنظیم امور آب.

<u>وظایف و مسئولیت های سرمایه گذاران</u>

**مادهٔ هشتم:**

سرمایه گذاران خصوصی به هدف سرمایه گذاری در سکتور آب دارای وظایف و مسئولیت های ذیل می باشند:

۱- اخذ اجازه نامه (استفاده ازمنابع آب، جمع آوری، انتقال، تصفیه و تخلیه فاضلاب و اعمار تاسیسات آب) از اداره ملی تنظیم امور آب.

۲- اخذ جواز فعالیت از دفتر آیسا.

۳- د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري ته د اوبو په سکتور کی د پانګي اچونی پلان وراندی کول.

۴- د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري ته د تر کار لاندې فعالیتونو په اړه ریپوټ ورکول.

## دریم څپرکی
## شرطونه، د پړاوونوتیرول، د غوښتنلیک تائید او یا ردول

### د پانګي اچوني شرطونه

**نهمه ماده:**

۱- د (اوبو سرچینو د کته اخیستني د فاضلاب راټولولو، انتقال، تصفیه او تخلیه کولو او د اوبو تاسیسات جوړولو) اجازه لیک او د فعالیت جواز لرل.

۲- تخنیکي او مالي وړتیا لرل.

۳- د افلاس او یا انحلال په حالت کي قرار نه درلودل.

۳- ارائه پلان سرمایه گذاری در سکتور آب به اداره ملی تنظیم امور آب.

۴- ارائه گزارش از فعالیت های تحت کار به اداره ملی تنظیم امور آب.

## فصل سوم
## شرایط، طی مراحل، تائید و یا رد درخواستی

### شرایط سرمایه گذاری

**مادهٔ نهم:**

۱- داشتن اجازه نامه (استفاده ازمنابع آب، جمع آوری، انتقال، تصفیه و تخلیه فاضلاب و اعمار تاسیسات آب) و جواز فعالیت.

۲- داشتن ظرفیت تخنیکی و مالی.

۳- قرار نداشتن در حالت ورشکستگی و یا انحلال.

۴- د پانګې اچوونکي د سوداګریز فعالیتونو له ځنډ سره نه مخامخ والی.

۵- د سرغړونې له کبله یې حقوقي دعوې د عدلي او قضائي مراجعو تر رسیدنې لاندې قرار ونلري.

۶- د ګټو تضاد ونلري، دا چې په تړون کې خطا د نوموړي د ګټې سبب وګرځي.

## د غوښتنلیک د پړاوونو تیرول

**لسمه ماده:**

۱- پانګه اچوونکی کولای شي چې دغوښتنلیک فورم د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري څخه تر لاسه کړي.

۲- پانګه اچوونکی اړین دي چې غوښتنلیک او نور ضمیمه شوي سندونه د پړاوونو تیرولو لپاره د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري ته وسپاري.

۳- د پانګې اچوونکي غوښتنلیک او نور سپارل شوي سندونه د

۴- مواجه نبودن فعالیت های تجارتی سرمایه گذار به حالت تعلیق.

۵- به سبب تخلف دعوی حقوقی تحت رسیده گی مراجع عدلی و قضای قرار نداشته باشد.

۶- تضاد منافع نداشته، طوری که تقصیر در عقد قرار داد سبب منفعت وی گردد.

## طی مراحل درخواستی

**مادهٔ دهم:**

۱- سرمایه گذار می تواند فورم درخواستی را از اداره ملی تنظیم امور آب دریافت نماید.

۲- سرمایه گذار مکلف است، درخواستی و سایر اسناد ضمیمه وی را جهت طی مراحل به اداره ملی تنظیم امور آب تسلیم نماید.

۳- بعد از ثبت درخواستی و اسناد ارائه شده سرمایه گذار

ثبتولو څخه وروسته د پلان، پالیسی او څارني عمومي ریاست ته واستول شي.

۴- د پلان، پالیسی او څارني عمومي ریاست له ارزوني وروسته، د پانګي اچوونکي سندونه د اجازه لیک د صادرولو لپاره د اوبو د چارو د تنظیم عمومي ریاست ته محول کړي.

## د غوښتنلیک تائید یا ردول

**یوولسمه ماده:**

د پلان، پالیسی او څارنې عمومي ریاست اړین دي چې د اړوندو تقنیني سندونو د حکمونو او د دې کړنلارې د درج شوو شرطونو سره سم، غوښتنلیکونه و ارزوي او د غوښتنلیک (تاييد يا ردولو) د پایلې څخه خصوصي پانګه اچوونکی خبر کړي.

به ریاست عمومی پلان، پالیسی و نظارت راجع گردد.

۴- ریاست عمومی پلان، پالیسی و نظارت بعد از ارزیابی، اسناد سرمایه گذار را به ریاست عمومی تنظیم امور آب جهت صدرو اجازه نامه محول نماید.

## تائید و یا رد درخواستی

**مادهٔ یازدهم:**

ریاست عمومی پلان، پالیسی و نظارت مکلف است طبق احکام اسناد تقنینی مربوط و شرایط مندرج این طرزالعمل اسناد سرمایه گذار خصوصی را ارزیابی و از نتایج آن (رد یا تائید) سرمایه گذار خصوصی را مطلع سازد.

# څلورم څپرکی
# نهایی حکمونه

**تخنیکي وړتیا**

**دولسمه ماده:**

پانګه اچوونکی د لاندې تخنیکي معلوماتو په وړاندې کولو د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې ته اړین دی:

۱- د فعالیت جواز، تشکیلاتي جوړښت، رهبري، کاري تجربه، د شرکت لوګو (نښان) او پلې شوي فعالیتونه.

۲- د رئیس، مرستیال، د شرکت د تخنیکي کارکوونکو شمیر او سوانحو لنډیز، د رئیس او مرستیال د پیژندپاڼې او یا پاسپورټ کاپي، بریښنالیک او د اړیکې شمیره.

۳- د شرکت تخنیکي وسایل (ماشینري) او د هغې ځانګړتیاوې.

۴- د تیرو (۳) کلونو مالي وضعیت ( د عایداتو او لګښت کچه).

# فصل چهارم
# احکام نهایی

**ظرفیت تخنیکی**

**مادهٔ دوازدهم:**

سرمایه گذار مکلف به ارائه معلومات تخنیکی ذیل به اداره ملی تنظیم امور آب ذیل می باشد:

۱- جواز فعالیت، ساختار تشکیلاتی، رهبری، سابقه کاری، لوگو (نشان) شرکت و فعالیت های تطبیق شده.

۲- خلص سوانح رئیس، معاون، کارمندان تخنیکی شرکت و تعداد آن، فوتوکاپی تذکره و یا پاسپورت رئیس و معاون، ایمل آدرس و شماره تماس.

۳- وسایل تخنیکی (ماشینری) شرکت و مشخصات آن.

۴- وضعیت مالی (۳) سال گذشته ( میزان عواید و مصارف).

۵- نور غوښتل شوي معلومات چې د ( اوبو سرچینو د ګټه اخیستنې د فاضلاب راټولولو، انتقال، تصفیه او تخلیه کولو او د اوبو تاسیسات جوړولو) د اجازه لیک د مقررې په حکمونو کې کې ذکر شوي.

## د پانګې اچونې پلان

**دیارلسمه ماده:**

د پانګې اچونې پلان چې د پانګې اچوونکي لخوا د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري ته سپارل کیږي لاندې مینځپانګې پکې شاملې وي:

۱- د فعالیت ساحه او د پانګې اچونې کچه.

۲- د پانګې اچونې ډول او سرچینه (شخصي پانګه او یا بله منبع).

۳- موخې، میعاد، د شریکانو شمیر او برخې.

۵- سایر معلومات مطالبه شده که در احکام مقرره اجازه نامه ( استفاده از منابع آب، جمع آوری، انتقال، تصفیه و تخلیه فاضلاب و اعمار تأسیسات آب) تذکر یافته.

## پلان سرمایه گذاری

**مادۀ سیزدهم:**

پلان سرمایه گذاری که از طرف سرمایه گذار به اداره ملی تنظیم امور آب تحویل می گردد شامل محتویات ذیل باشد:

۱- عرصه فعالیت و اندازه سرمایه گذاری.

۲- نوعیت سرمایه گذاری و منبع (سرمایه شخصی و یا منابع دیگر).

۳- اهداف، میعاد، تعداد و سهم شرکا.

۴- حد اقل د راتلونکو (۳) کلونو د مالي وضعیت وړاندوینه ( د عایداتو او لګښت کچه).

**د حکمونو ثبتول**

**څوار لسمه ماده:**

د دفتر ریاست اړین دي تر څو د اوبو په سکتور کې د خصوصي پانګې اچونې د جلب او جذب چارو کې د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري لوی رئیس حکمونه ثبت او اړونده څانګې ته راجع کړي.

**د تدارکاتي پړاوونو تیرول**

**پنځلسمه ماده:**

د تهیه او تدارکاتو ریاست اړین دي تر څو د اوبو په سکتور کې د خصوصي پانګې اچونې د تدارکاتي چارو پړاوونه تیر کړي.

**څارنیزې چارې**

**شپاړسمه ماده:**

د اوبو د چارو د تنظیم عمومي ریاست او د سیندي حوزو اړونده ریاستونه د مرکز او سیندي حوزو

۴- پیشبینی از وضعیت مالی حد اقل در (۳) آینده ( میزان عواید و مصارف).

**ثبت احکام**

**مادهٔ چهاردهم:**

ریاست دفتر مکلف است تا احکام رئیس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب را در امور جلب و جذب سرمایه گذاری خصوصی در سکتور آب را ثبت و به بخش مربوطه راجع نماید.

**طی مراحل تدارکاتی**

**ماد پانزدهم:**

ریاست تهیه و تدارکات مکلف است تا امور تدارکاتی سرمایه گذاری خصوصی در سکتور آب را طی مراحل نماید.

**امور نظارتی**

**مادهٔ شانزدهم:**

ریاست عمومی تنظیم امور آب و حوزه های دریائی مربوطه مکلف به نظارت و گزارش از امور

په کچه د پانګې اچوونکو د تخنیکي چارو په څارنې او ریپوټ ورکولو اړین دي.

## د لایحو وضع کول

**اوه لسمه ماده:**
د دې کړنلارې د احکامو د ښه پلي کېدو په موخه د پلان، پالیسي او څارنې عمومي ریاست کولای شي اړونده لایحې وضع کړي.

## انفاذ

**اته لسمه ماده:**
دا کړنلاره د منظورۍ څخه وروسته نافذه ده.

د اوبو په سکتور کې د خصوصي پانګې اچونې د جلب او جذب کړنلاره چې په ۴ څپرکو او ۱۸ مادو کې تنظیم شوې، منظور ده.

تخنیکی سرمایه گذران در سطح مرکز و حوزه های دریائی می باشند.

## وضع لوایح

**مادهٔ هفدهم:**
به منظور تطبیق بهتر احکام این طرزالعمل ریاست عمومی پلان، پالیسی و نظارت می تواند لوایح مربوطه را وضع نماید.

## انفاذ

**مادهٔ هژدهم:**
این طرزالعمل بعد از منظوری نافذ است.

طرزالعمل جلب و جذب سرمایه گذاری خصوصی درسکتور آب که در ۴ فصل و ۱۸ ماده تنظیم گردیده، منظور است.

انجنیر خان محمد "تکل"

د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې لوی رئیس

د منظورۍ نېټه: ۹ ۱۳۹۹ ل.هـ کال د چنګاښ میاشت
تاریخ منظوری: ماه سرطان سال ۱۳۹۹ هـ.ش

## رهنمود طی مراحل

